**مطبوعاتي اعلامیه**

**د اخند بهارت «ستر هند» نقشه پای ته ورسوئ او خلافت تاسیس کړئ**

**د پاکستان حاکمانو د هند د نقشې لپاره د نبوت پر منهج خلافت او د اشغاګرو ځواکونو پر ضد جهاد غیر قانوني ا- علان کړ**



د اسلام د نړیوال لرلید د نشت له کبله پاکستاني چارواکو یو ځل بیا د هند د نقشې لپاره د نبوت پر مهج د خلافت تاسیس او په اسلامي خاورو کې داشغالګرانو پر وړاندې جهاد غیر قانوني اعلان کړ. بریکس  د هند طرفدارې اداري (BRICS)، چې هند یې هم غړی دی، د روان کال د سپټمبر په څلورمه یې په یو بیانیه کې د حزب التحریر د فعالیتونو د مخنیوي غوښتنه وکړه؛ حزب التحریر یو سیاسي فکري حزب دی، چې هدف یې د نبوت پر منهج د راشده خلافت تاسیس دی. د دې تر څنګ د هغو ګروپونو د فعالیت د بندولو غوښتنه یې هم وکړه چې په کشمیر د هند او په افغانستان کې د اشغالګرو ځواکونو پر وړاندې جګړه کوي. د دغو څرګندونو په ځواب کې د پاکستان د دفاع وزیر خرم دستګیر د سپټمبر په پنځمه وویل: «پاکستان په خپله خاوره کې هیڅ تروریست نه لري.» همدا راز د بهرنیو چارو وزارت ویاند نفیس زکریا وویل: « پاکستان هم په جنوبي اسیا کې د تروریزم او افراطیت د ګواښونو په اړه سخت اندیښمن دی.»

**حزب التحریر والایه پاکستان** د پاکستان له منزوي شوي ریژیم څخه پوښتنه کوي: هند څوک دی، چې د اسلامي امت او نورو ملتونو لپاره د ښه او بد پریکړه کوي؟ ولې د نبوت پر منهج خلافت افراطیت تعبیرېږي، په داسې حال کې چې د هر اوسیدونکي امنیت ساتي، خو موږ وینو چې د هند معتصب رژیم د ټولو اقلیتونو حقونه تر پښو لاندې کوي او ځوروي یې؟ د اشغالګرو ځواکونه په وړاندې جهاد ته ولې تروریزم وویل شي، په داسې حال کې

چې د هند ظالم ریژیم له خوا په اشغالي شوي کشمیر کې د خلکو پر وینې تویونې سربېره هند ته د دیموکراسۍ د یوې متمدنې بېلگې په سترگه کتل کېږي؟ د هند ظالم رژیم د نبوت پر منهج د خلافت له تاسیس څخه ځکه وېرېږي چې هغه به د اخند بهارت (ستر هند) نقشه له منځه یوسي. د دې تر څنگ د هند بې غیرته ځواکونه په کشمیر او نورو ځایونو کې له کوچنیو جهادی گروپونو څخه داسې وېره لري، دا خو پرېږده چې د پاکستان پوځ د راشد خلیفه تر مشرۍ لاندې د هند په وړاندې د جهاد اعلان وکړي.

**اې د پاکستان مسلمانانو!** رهبري باید هغه چا ته ورکړل شي چې ور یې وي او د هغه چا پر وړاندې چوپ پاتې کېدل، چې د رهبرۍ ور نه دی، په خپل ذات کې جرم دی. دا د تاسف خبرمه کوځ چې «رهبري نشته» تر هغه چې په وړاندې یې نه یی را پاڅیدلي او عمل مو نه دی کړی. دښمنان مو پر وړاندې په قدرت سره ولاړ دي، په داسې حال کې چې اوسني حاکمان ستاسو ټول حقونه تر پښو لاندې کوي او پر دې سربیره تاسو ته په لاره کې لویې ځاگانې کني. دا د ارام کېناستلو او سکون وخت نه دی. هغه وخت را رسېدلی چې خپل غږ پورته کړئ او د حزب التحریر له شبابو سره اوږه په اوږه ودرېږئ، امت وژغورئ او د اخند بهارت (ستر هند) د نقشې د له منځه وړلو لپاره کار وکړئ. اوس یې وخت دی چې تاسو په پوځ کې له خپلو خپلوانو، پلرونو، ورونو، زامنو، سره اړیکې ټینگې کړئ او ترې وغواړئ چې د نبوت پر منهج د ژر تر ژره راشده خلافت د تاسیس لپاره حزب التحریر ته نصرت ورکړي؛ تر څو اسلام یو ځل بیا په هندو مشرکانو داسې حاکم شي لکه څنگه چې په مخکینیو پړیو کې پرې حاکم و. الله سبحانه وتعالی فرمایي:

**﴿هُوَ الَّذِي أَرْسَلَ رَسُولَهُ بِالْهُدَىٰ وَدِينِ الْحَقِّ لِيُظْهِرَهُ عَلَى الدِّينِ كُلِّهِ وَلَوْ كَرِهَ الْمُشْرِكُونَ﴾**

[التوبه: ۳۳]

هغه (الله) هغه ذات دی، چې خپل پیغمبر یې له هدایت او حق دین سره راولېږه، چې پر ټولو دینونو یې غالب کړي؛ که څه هم مشرکان خوښ نه وي.

**د حزب التحریر- ولایه پاکستان مطبوعاتي دفتر**

**شمېره: PR17065**

**۱۴۳۸هـ.ق، د ذی الحجې ۱۵مه**

**۲۰۱۷م، د سپټمبر ٦ مه، چهارشنبه**